Oregon Health Authority

## د ریکارډ نه درلودو لپاره د محرومیت امر (ژیره فورمه)

### دا لیک څه شی دی؟

دا لیک یوه قانوني خبرتیا ده. هغه ښوونځی یا د ماشوم پاملرنه چې ستاسې ماشوم ورته ځي ستاسي د ماشوم د واکسینو ریکارډ نلري. تاسې باید د محرومیت/رحصتی ورځې پورې ریکارډ وسپارئ یا ستاسي ماشوم ته تر هغه وخت پورې ښوونځي یا د ماشوم پاملرنې ته د ورتګ اجازه نه ورکول کېږي څو چې ریکارډ تازه شوی نه وي.

### تاسې باید څه وکړئ؟

- **که تاسې د خپل ماشوم د واکسینو ریکارډ لرئ:**
  دغه ریکارډ د خپل ماشوم ښوونځي یا ماشوم پاملرنې ته یوسئ.

- **که تاسې ریکارډ نلرئ، مګر ماشوم مو واکسین کړي وي:**
  د خپل ماشوم د ډاکټر دفتر یا ALERT IIS، د اوریګون د واکسینو راجستري ته په 1-800-980-9431 شمېره زنګ ووهئ. کله چې تاسې ریکارډ ترلاسه کړ، د خپل ماشوم ښوونځي یا ماشوم پاملرنې ته یې یوسئ.

- **که ستاسې ماشوم واکسین نه وي کړي:**
  د واکسینو کولو لپاره هرڅومره ژر چې ممکن وي یو ملاقات واخلئ. دوی ته خبر ورکړئ چې ستاسي ماشوم به د واکسینو پرته د ښوونځي یا ماشوم پاملرنې څخه کور ته ولېږل شي. که تاسې ډاکټر نلرئ، 211 ته زنګ ووهئ. دوی کولی شي تاسې سره واکسین کولو لپاره کلینیک موندلو کې مرسته وکړي. کله چې تاسې د واکسین ریکارډ ترلاسه کړ، ډاډ ترلاسه کړئ چې ښوونځي یا د ماشوم پاملرنې ته یوه کاپي وسپارئ.

### که کوم ډاکټر درته ویلي وي چې ستاسې ماشوم باید واکسین ترلاسه نه کړي نو څه باید وشي؟

اوریګون د طبي معافی اجازه ورکوي. دا باید د یوه ډاکټر یا ځایی روغتیا څانګې لخوا لاسلیک شوی وي. که تاسې فکر کوئ چې ستاسې ماشوم طبي معافی ته اړتیا لري، د خپل ماشوم ډاکټر سره وغږېږئ.

### که تاسې د واکسین نه کولو انتخابوئ نو څه باید شوي؟

اوریګون د غیر طبي معافی اجازه ورکوي. د غیر طبي معافی ترلاسه کولو څرنګوالي په اړه د معلوماتو لپاره، www.healthoregon.org/vaccineexemption ته ورشئ.

### که تاسې پوښتنې ولرئ نو څه باید وشي؟

په قانوني خبرتیا کې ورکړل شوې د ځایی روغتیا څانګې ته زنګ ووهئ. دوی ستاسې لپاره پوښتنې ځوابولی شي.